**د اراکان مسلمانان له اسلامي امت او پوځونو یې ملاتړ غواړي**

﴿وَيَقُولُونَ مَتَى هُوَ قُلْ عَسَى أَن يَكُونَ قَرِيبًا﴾ [الاسراء: ۵۱]

د روهینګیا زرګونه مسلمانان د میانمار د ظالم پوځ له وروستیو مرګونو حملو څخه په داسې حال کې وتښتېدل چې نه سرپناه لري، نه خوندي دي او نه خوراکي توکي او اوبه. رپوټونه وايي چې یو میلیون مسلمانانو کوښښ کړی، چې نږدې هېواد بنګله دېش ته وتښتي، خو د بنګله دېش د بې نظمه ملیپالو پالیسیانو او دروغو تورونو له امله د بنکله دېش د لومړۍ وزیرې شیخ حسینې- خدای دې دا ووهي- له خوا رد شوي. دوی یې د مرګ او شکنجې تر منځ د سیند پر غاړه پرېښي، یا به سختې شکنجې په تکراري بڼه تېروي یا به لرې پرتو غرونو ته تښتي. په داسې حال کې چې په اراکان کې زموږ د وروڼو او خویندو د ټولوژنې پر وړاندې اسلامي هېوادونه په ځانګړي ډول اندونیزیا، مالیزیا او پاکستان چوپ دي.

له دې هر څه سره سره موږ باید یو ځل بیا په روهینګیا کې زموږ د مسلمانو وروڼو او خویندو د بریا او ملاتړ لپاره ودرېږو. د بودایانو تر ظلم لاندې د دوی وضعیت په فلسطین کې د مسلمانانو له وضعیت او د سپېڅلي مسجد الاقصا له وضعیت سره، چې د یهودو تر جګړې لاندې دی، توپیر نه لري. هر یو له اسلامي امت او له لښکرو یې مرسته غواړي، چې راشده خلافت تاسیس کړي او له بې رحمه کفارو ازاد شي.

اوس یې وخت دی چې له اسلامي امته د رویبضه (احمقو) حکامو ریښې وباسو او پر ځای یې د مخلص او پرهېزګار راشد خلیفه مخلصه رهبري راولو، چې د نبوت پر منهج د الله سبحانه و تعالی شریعت پلی کوي.

﴿وَيَقُولُونَ مَتَى هُوَ قُلْ عَسَى أَن يَكُونَ قَرِيبًا﴾ [الاسراء: ۵۱]

*هغوی به په سر خوځولو پوښتنه وکړي: «نبه نو دا به کله وي؟» ورته ووایه: « ولې حیرانېږئ؟ هغه وخت نږدې دی.»*

**نړیوال کمپاین**

**مرکزي مطبوعاتي دفتر، د ښځو څانګه**

**۱۴۳۷هـ.ق، د ذولحجې ۷مه**

**۲۰۱۷م، د اګېست ۲۹مه**